# ناول "بنزے" فني او فکري څېړنه

# The technical and Conceptual Study of the Novel "Banzay"

Ibad ur Rahman Rohi [1]

"Banzay" is the masterpiece of Ghazi Syal. Apart from this novel, he has also got two other novels published i-e KASHMALA and MANGARAI. Although folklore is the real field of Ghazi Syal where his favourite genre is "SANDARA".Being an all round poet,he is also unique in style, A researcher, A critic, A Dramatist and a Novelist.In this Article, the technical and conceptual aspects of the "BANZAY" will be researched.

بنزے د غازي سیال وړومبے ناول دے چې په اول ځل په کال 1987ء کښې د جنورۍ میاشت کښې د همېش خلیل او افضل رضا د سریزو سره چاپ شو۔ دا ناول ستمبر 2010ء کښې په پنځم ځل چاپ شوے دے۔

غازي سیال چې پوره نامه ئې محمد غازي ده او غازي سیال ئې قلمي نوم دے ۔ په کال1933 ء د بنو په "کوټکه اخوندان منډان" کلي کښې د عبدالغفور شاه کره زېږېدلے دے۔ په بنیادي توګه شاعر دے خو ورسره ورسره ښۀ افسانه لیکونکے، محقق، نقاد او ناول لیکونکے هم دے۔سندره ئې د خوښې صنف دے او دا فن ئې کمال ته رسولے دے۔

بنزے ناول د هغوي شاهکار ناول دے۔ دې نه علاوه ئې دوه نور ناولونه "کشماله" او "منګرۍ "هم چاپ شوي دي۔ دلته به د "بنزي" ناول په فني او فکري اړخونو رڼا اچولے شي۔ لکه څنګه چې مونږ ته معلومه ده چې په دنیا کښې هېڅ یو کار بې مقصده نۀ کېږي بیا د ادب په شا خو د ژوند لوي مقصدونه پراتۀ دي۔ ادب ټول په ټوله د ژوند ترجماني کوي خو په صحیح معنو کښې چې د ټول ژوند احاطه په کوم صنف کښې کېدے شي، هغه ناول دے۔

1 M.phil scholar Pashto Academy University of Peshawar

دغه شان بنزے ناول که څوک په ژور نظر وګوري نو د ډېرو نفسياتي او سماجي مرضونو علاج په کښې موندے شي او د ډېرو خوږو زړونو ټکور په کښې ليدے شي۔ لکه د معاشرې نه طبقاتي لرے برے ختمول، د جرمونو مخ نيوے کول، جنسي بې لارويۍ ختمول او د هغې دپاره سمه لاره خپلول، د غريبو او بې وسه خلقو مرسته کول، د اولاد په سم ډول تربيت کول، لوظ پالل، د خود غرضه دوستۍ غندنه کول او د خپلې مورنۍ ژبې سره د ناروا سلوک کونکيو حوصله شکني کول د دې ناول بنيادي توکي دي۔ ښاغلے حنيف خليل د دې ناول ليکلو غرض داسې ښائي:

"ښاغلي غازي سيال د نوي تعليم يافته ماحول او پښتنو زلمو او پېغلو د نفسياتو د ترجمانۍ له پاره بنزے وليکلو چې په ادبي دنيا کښې ئې ستائينه شوې ده"۱

په دې ناول کښې مونږ ته درې بنيادي نکتې په نظر رائحي يوه دا چې سړي د ښځو سره څۀ رنګ سلوک کوي؟ که يو طرف ته ترې دغه سړي ډمه جوړه کړي نو بل طرف ته داسې سړي هم شته چې دغه ډمه ئې د خپل کور مېرمنه کړې ده۔

دويمه دا چې د اولاد د ښۀ تربيت دپاره د مور د مينې سيورے ډېر ضروري دے۔ او مېره مور دغه کمے هيچرې نۀ شي پوره کولے۔ دريمه دا چې عادت نۀ بدلېږي۔

بنزے ناول چې د همېش خليل او افضل رضا غوندې نامتو نقادانو له خوا ستائيلے شوے دے، ډېره خوږه او پسته ژبه لري۔ د روزمرې، محاورې او متل په خوږو لړلے شوے دے۔ ماحول ئې پښتنے دے، قيصه ئې د دې خاورې د اولس ده۔ کردار نګاري ئې هم د ستائينې وړ ده۔ د دې نه وړاندې چې د دې ناول ښۀ په تفصيل سره جاج واخستے شي، پکار ده چې د دې ناول لنډه شان خاکه پېش کړے شي۔ ښاغلے افضل رضا دا خلاصه څۀ دا شان بيانوي:

"بنزے ناول قيصه چې ما ولوسته نو په دې پوهه شوم چې ګران سيال د دوستانو او ملګرو محفل ښائي۔ جلال د خپل دوست ګل خان امانت نورجهان د(له) بازاره راوباسي چرته چې عصمتونه لوټ کېږي۔ او د عارف اېس ډي او په کور کښې ئې د بي بي په څېر کښېنوي۔ ولې بل خوا هم د دې مخلص انسان بې غېرته ملګرے فهد د دۀ د "مومي" عصمت لوټ کولو ته ملا ترې۔ او اخر ئې

قتل کوي۔ دا الزام اګر چې د جلال زوے سليم په دې وجه په خپل سر واخلي چې "مومي" ورته بد کرداره ښکاري او په دې وجه چې د مومي لا ځواني وي او جلال بوډا شوے وي ولې ډېر زر د اصلي قاتل فهد پته ولګي۔ دا شان ليکوال دا ښودل غواړي چې مجرم خپل مخ ډېر په نقابونو کښې پټ کړي ولې وخت ئې يوه نه يوه ورځ د مخه ټول نقابونه لرې کړي او حقيقت څرګند شي۔"۲

که چرې مونږ د ناول په فن خبره کوو نو د ټولو نه ضروري څيز په کښې قصه په نظر راځي۔ قصه د ادب په نورو اصنافو کښې هم بيانېدے شي لکه نظم، ډرامه، افسانه او داستان وغېره خو د ناول قصه بشپړه او مکمله وي۔ چرته چې قصه نۀ وي هلته هېڅ نۀ وي۔ قصه د وړو وړو واقعاتو هغه لړۍ ته وئيلے شي کومه چې په يو خاص هنري ترتيب سره غښتلے شوې وي۔ نوموړي انګرېز ناول ليکونکي E.M Forster په قول قيصه د ناول د ملا تير دے۔۳ او په دې کښې هېڅ شک نشته چې بې د قصې نه د ناول وجود ناممکن دے۔ ښاغلے مشتاق مجروح يوسفزے هم د E.M Forster دغه خبره کټ مټ را اخلي او ورسره څۀ نورې اضافې کوي۔

"د ناول دپاره قصه ضروري څيز دے د قيصې نه بغېر ناول نۀ شي ليکلے۔ قصه د ناول د ملا تير وي او قصه د يو څو د يو بل سره تړلو واقعاتو يوې خاص نتيجې ته رسولو ته وائي چې شروع، مېنځومانه او اختتام لري او د دې نه علاوه ورله تجسس هم ضروري څيز دے۔"۴

ښاغلے اضل رضا د ښزي ناول د قصې په حقله داسې ليکي:

"د ښزے ناول قصه چې ګرانو لوستونکو ته هر څنګه ښکاري خو د دې نه انکار نۀ شي کېدے چې دا قيصه يو ښکلے اغاز لري، معياري عروج ئې دے او د تجسس او سسپنس نه ډک انجام ئې دے۔"۵

د ناول د قصې په حقله افضل رضا هم په خپله خبره پوره يقيني نۀ دے او د قصې د ذکر نه ئې ځان په ډېره ساتلے دے۔ شايد چې قصداً ئې داسې کړي وي ګني نو د افضل رضا غوندې لوي نقاد

د نظر نه به دا خبره خامخا تېره شوې وي لکه په ناول کښې يو ځائے غازي سيال د فهد په خولهٔ داسې مخاطب کېږي:

"يو څو ورځې مخکښې تا په قصه خوانۍ کښې يو کتاب نهٔ وهٔ اخستے؟ هغه چې دې وې چې خوب نهٔ راځي، د شپې هم پرې پام غلطوم او د هغه کتاب نوم وهٔ" شهزاده سليم او نورجهان "، هم هلته ماته شک غوندې شوے وهٔ۔ ۶

اګرچې د ناول زياتره واقعات د ناول نګار د خپلې مشاهدې او تجربې عکاسي کوي خو د دې سره سره ئې د قصې ځينې ماتې کړۍ د دغه ياد کړے شوي کتاب په مدد پوره کړي دي۔ يوائې دا نهٔ چې د بالاخانې ټول واقعات ئې هم هغه راخستي دي بلکې د کردارونو نومونه ئې هم ښهٔ په خلاص مټ په خپل ناول کښې ځائے کړي دي لکه سليم او نورجهان وغېره۔ دغه شان چې کله سرے د بالا خانې سره تړلي واقعات لولي نو د لوستونکي مخې ته د هندۍ مشهور فلم "مغلِ اعظم" نېغ ودرېږي چې په اصل کښې د دغه پورته ياد کړے شوي کتاب "پکچرائزډ" شکل دے۔

په ناول کښې پلاټ ته هم بنيادي مقام حاصل دے پلاټ د واقعاتو تنظيم ته وئيلے شي د يو ښهٔ ناول پلاټ به همېشه په يو خاص تکنيکي ربط کښې وي د ناول پلاټ د ژوند د حقيقي واقعاتو او پېښو نه جوړ پکار دے۔ د محمد احسن فاروقي په خيال:

''پلاٹ میں قصہ نہایت سلیقے کے ساتھ ڈھلا ہوا ہونا چاہئے۔ ضرورت سے زیادہ واقعات یا حرکات جو نفس قصہ سے کم تعلق رکھتی ہیں یک لخت چھانٹ دینا چاہئے۔ پلاٹ بنانا ایسا ہی ہے جیسے کوئی بت تراش کچھ خاص فنی قاعدوں کے موافق کسی پھتر کی سل تراش کر ایک خوش نما بت بنائے مگر خوبی یہ ہے کہ اس میں بناوٹ کا اثر ظاہر نہ ہو۔'' ۷

د بنړے ناول قصه ډېره په مهارت سره د پلاټ په سانچه کښې اچولې شوې ده۔ خو په ځينو ځايونو کښې ترې لږه ډېره کوتاهي شوې ده لکه د سليم د فطري شرير ثابتولو دپاره چې ناول نګار کوم واقعات راټول کړي دي هغه د ډېر والي سره سره رنګ امېزي هم لري چې د سنجيده لوستونکي په ذهن بوج پرېباسي او ناول د خپل فن د کمال نه غورزوي۔

د پلاټ نه علاوه کردار نګاري د ناول بل اهم فني توکے ګڼلے شي کرادارونه د واقعاتو په مدد سره قصه مخ په وړاندې بيائي او د ناول په کالبوت ساه اچوي هنري جېمس د فکشن فن نومې مضمون کښې داسې ليکي:

*''ناول نگار کو اپنے تجربے سے لکھنا چاہیے۔ اس کے کردار ویسے ہی حقیقی اور جیتی جاگتے ہو جیسے کہ ہمیں حقیقی زندگی میں نظر آتے ہو۔''۸*

که مونږ د دې ناول کردارونو ته ګورو نو ټول په ټوله د انساني او حقيقي ژوند نه اخستے شوي دي۔ ټول کردارونه ښۀ ژوندي او د غوښې او هډوکي نه جوړ انسانان دي۔ د دې ژوندو کردارونو په حقله افضل رضا د ناول په سريزه کښې داسې ليکي:

”د دې ناول ټول کردارونه جلال دے که ګل خان، سليم دے که فهيم او شاهد دے که عارف، مومي ده که نورجهان او بېګم جان دے۔ تاجو ده که ماما دے، زمونږ د معاشرې ژوندي کردارونه دي۔“۹

هم دا اصل نکته ده چې ناول د داستان نه بېلوي ځکه چې د داستان ټول کردارونه به مافوق الفطرت يعنې پېريان او دېوان وو۔ د حقيقي ژوند سره به ئې هېڅ تعلق نۀ وۀ۔ بله اهمه خبره چې ډاکټر محمد اعظم اعظم ورته هم اشاره کړې ده، هغه دا ده چې د کردار فعل او عمل به د هغۀ د فطرت سره سمون خوري اعظم صيب د غوره کردارنګارۍ په حقله داسې ليکي:

”هر څو که د ناول په خوره وره او بشپړه لمن کښې دومره ځائے وي چې کردارونه په کښې د مختلفو حالاتو او واقعاتو په مناسبت په ارتقائي مدارجو راتېرېدے شي، خو د غوره کردار نګارۍ معيار د ليکونکي نه دا غوښتنه کوي چې په دغه حالت کښې به هم د کردار هر فعل او عمل د هغۀ د فطرت او مزاج سره سمون خوري۔“۱۰

بنږے ناول هم د دغه قسمه ارتقائي مدارونو نه راتېر شوے ښکاري۔ هر يو کردار ئې خپل ځانګړے مزاج لري او د خپل فطرت مطابق مخ په وړاندې ترقي کوي خو په يوه مرحله کښې هم

دغه مزاجونه د تضاد ښکار شوي نۀ دي د هر کردار عمل د هغۀ د فطرت مطابق Developed شوے دے۔

په فکشن کښې د مکالمې ډېر غټ رول وي هغه که ناول وي او که افسانه، خو مکالمه ئې د فن په ښکلا کښې زياتوالے راولي او د يو کامياب ناول دپاره دا ډېره ضروري ده چې د هغې مکالمې دې برجسته، چستې او د واقعاتو عين مطابق وي۔ د نګارستان مؤلف د مکالمې په حقله داسې ليکي:

"مکالمہ ناول کا ایک ضروری حصہ ہے جو قصہ کے ارتقاء میں معاون و مددگار ثابت ہوتا ہے۔ مکالموں کے ذریعے سے کرداروں کی شخصیت کے گوشے بے نقاب ہوتے ہیں۔ ناول کی کامیابی کا انحصار اچھے مکالموں پر ہوتا ہے۔ اس لئے ضروری ہے کہ زبان عام فہم او آسان ہو۔ مکالمہ کردار کی عمر، جنس، تعلیم اور مزاج کے مطابق ہو اور اس کا انداز فطری ہو، مکالمہ دلچسپ، موزوں اور بر محل ہو۔ کرداروں کے جذبات، احساسات اور خیالات کا صحیح ترجمان ہو۔ انسانی جذبات غم، غصہ، مسرت، طنز و مزاح، سنجیدگی سب کی عکاسی ہوتی ہو جذباتی اثرات گہرے اور مستقل ہوں کسی جذبے کے بارے میں مصنوعی ہونے کا گمان نہ ہو۔"۱۱

د بنزي ناول مکالمې هم برجسته، چستې او برمحله دي۔ د کردارونو د نفسياتو، احساساتو او جذباتو اظهار ته ئې ډېر خوندور مکالماتي انداز وربخښلے دے۔ د دې خبرې تائيد د افضل رضا د سريزې نه هم کيږي۔ هغه په سريزه کښې ليکي:

"ــــــ او په دې وجه هغه د کاميابې منظر کشۍ سره ځائے په ځائے مکالمو کښې هم ډېر خوند پيدا کړے دے۔"۱۲

دغه شان د يو ښۀ ناول دپاره دا ډېره ضروري وي چې د هغې کردارونه په کوم چاپيرچل کښې ژوند کوي د هغې منظر نګاري دې په ښائسته انداز وکړے شي۔ بې د منظر نګارۍ نه د افسانې يا ناول رغېدل بيخي ناممکن دي ځکه د منظر نګارۍ د اهميت او ضرورت په حقله مصنف خان سحاب داسې ليکي:

"کرداروں کے عادات و خصائل، طرز رہائش اور ان کا ماحول منظر نگاری کے دائرہ میں آتے ہیں۔ منظر نگاری چاہے سماجی ہو یا مادی، ناول کے لیے ضروری ہے، ماحول کی عکاسی کرداروں

کے مزاج اور ان کی ذہنی کیفیت کو منظر نگاری سے ہی سامنے لایا جاتا ہے۔ منظر نگاری کے لیے ضروری ہے کہ فطری ہو۔"۱۳

اوس که مونږ بنزي ناول کښې فطري منظر نګاري لټول شروع کړو نو داسې ښکاري چې دا ناول ټول د فطرت په خوږو لړلے شوے دے۔ ژبه ئې شاعرانه او تخیلانه ده۔

ناول نګار داسې منظر د سړي په ذهن کښې جوړَوي لکه چې د لوستونکي په وړاندې دا هرڅهٔ لکه د فلم په شکل کښې تېرېږي۔ ښاغلے افضل رضا هم د دې بې مثاله منظر کشۍ په حقله په داسې لیکلو مجبوره دے؛

" په ناول کښې منظر کشي هم ډېر لوي اهمیت لري، ګران سیال چونکې شاعر هم دے خو هغه که د دفتر نقشه پېش کوي او که د کالج یا د هاسټل، د مومي، یا نورجهان یا د تاجو د حسن خبرې کوي او که د عارف، فهد، ګل خان او جلال د زړهٔ خبرې خلې ته راولي۔ هر ځاے کښې هغه په نثر کښې شاعري کوي۔"۱۴

ناول نګاري چونکې د ادب په زُمره کښې راځي نو ځکه د دې اندازِ بیان او ژبه هم د ادب په خوږو لړلے شوې پکار وي۔ مکالمې ئې د روزمرې مطابق وي۔ کردارونه ئې د ژوند د حقیقتونو ترجمان وي۔ لهجه ئې پسته وي۔ نور خوند رنګ زیاتولو دپاره په کښې د محاورې، متل، شعرونو یا مصرعو استعمال هم کولے شي۔ کله کله ډرامائي انداز هم اختیار کړي۔ بنزے ناول په دې هر څهٔ بالکل پرې پوره خېژي۔ افضل رضا د دې ناول د ژبې او بیان په حقله داسې لیکي:

" ژبه ئې بیخي ډېره خوږه او سوچه ده۔ او بیا د ژبې او بیان دې ښائست کښې خوږو خوږو متلونو ډېره اضافه کړې ده۔"۱۵

په ځنې ځاے کښې د انګرېزۍ توري د ناول د ژبې په سوچه والي اثر پرېباسي خو د ناول نګار د خپلې ژورې مشاهدې سره د داخلیت داسې خوارهٔ ملګري کړي دي چې ناول ئې د زمان و مکان د حدونو سره پیوند کړے دے۔

د دې نه علاوه ناول کښې داسې تېروتنې هم شوي دي چې لوستونکے د ذهني جنجال سره مخامخ کوي۔ داسې ښکاري چې په دې باب له د ښاغلي غازي سيال مشاهده سطحي ده لکه د هاسټل د ژوند سره تړلي واقعات چې کله کله په کښې دومره رنګ امېزې نه کار اخستے شوے دے چې د سړي پرې هډو يقين نۀ راځي۔

دغه شان د "سليم" د عمر په حقله هم ناول نګار د يوې تېروتنې ښکار شوے دے۔

د جلال الدين ورومبۍ ښځه (د سليم مور) د وفات نه څلور کاله پس د دوېم وادۀ په حقله ناول نګار داسې ليکي:

"په دا قسم خيالونو کښې ئې د وادۀ نۀ کولو او وادۀ کولو "څلور کاله" واړول"۔
۱۶

دغه شان د سليم د مور د وفات په وخت د هغۀ عمر پنځۀ کاله ښائي

"دا وخت سليم په شپږم جماعت کښې سبق وئيلو، هغه هم ډېر خوشحاله وۀ ځکه چې د هغۀ د ژوند ضرورتونه هم زيات شوي وو او ورته د خندا خوشحالۍ دپاره د يو بنيادم هم ضرورت وۀ۔ د مور نه د جدا کېدو په وخت هغه ايله د پنځو کالو وۀ"۔۱۷

دلته د سليم د عمر په حقله دا جنجال راپيدا کېږي چې هرکله چې د مور د وفات په وخت د هغۀ عمر پنځۀ کاله وۀ دغه شان ئې پلار څلور کاله پس دوېم وادۀ کوي نو دغه وخت د هغۀ عمر ټول "نهۀ" کاله جوړېږي۔

په دې لحاظ خو دا خبره يقيني سمه ښکاري خو چې لوستونکے لږ په غور سره دا ناول وړاندې ولولي نو ورته ښکاره شي چې ناول نګار د "جلال" د دوېم وادۀ په وخت د سليم عمر نهۀ کاله ښودلے دے۔ ولې دا هم ورسره ليکي، چې هغه (سليم) په شپږم جماعت کښې سبق وئيلو۔

اوس که چرې مونږ د سکول وئيلو په لحاظ د سليم عمر ته ګورو نو هغه د دۀ د اصلي عمر (نهۀ کاله) نه زيات جوړېږي او د سکول د سبق وئيلو په حساب سره ئې عمر کم از کم "يولس کاله "

راځي۔ دې اړخ ته بايد چې ناول نګار لږ پام راګرځولے وے نو بهتره به وه۔ د دې نه علاوه که مونږ د ناول د موضوع اړخ ته ګورو نو په دې لحاظ ناول نګار ډېر کامياب ښکاري۔ ځکه چې هغه د خپلې ټولنې په صحيح معنو او ژور نظر سره مشاهده کړې ده او د کومو واقعاتو ملغلرې ئې چې د پلاټ په رېښمين تار کښې پېرلي دي، هغه د داد مستحق دي۔ ناول نګار د ټولنې په تصوير جوړولو کښې د فطرت د رنګ امېزۍ نه هم ښۀ کار اخستے دے۔

عرض دا چې غازي سيال په "بنړے" ناول ليکلو سره دا ثابته کړې ده چې نۀ يواځې هغه روماني شاعر دے بلکې يو ښۀ تجربه کار ناول نګار هم دے۔ او د دې خبرې تائيد د هغۀ د نورو دوؤ ناولونو"کشماله" او "منګرۍ" نه هم کيږي۔ او داسې ښکاري چې هغه د زېلي طبقې ملګرے دے او يو ترقي پسند اديب دے۔

## ماخذونه


۱: حنيف خليل، پښتو ناول (تحقيقي او تنقيدي جائزه)، ملت ايجوکيشنل پرنټرز، لاهور، جنوري ۲۰۰۰ء، مخ۹۷

۲: غازي سيال، بنړے، زرپانه پرنټرزپبلشرز، پېښور، ستمبر۲۰۱۰ء، مخ ۶

۳: E.M Forster, Aspects of Novel, Harcourt, Brace and Company, New yark, 1927, p:25 “It runs like a backbone.”

۴: مشتاق مجروح يوسفزے، زرکاڼے (بديع، بيان او ادبي صنعتونه)، يونيورسټي بک ايجنسي خيبربازار، پېښور، نومبر ۲۰۱۰ء، ص ۱۸۶

۵: غازي سيال، بنړے، مخ ۸

۶: هم دا کتاب، مخ ۱۰۵

۷: منصب خان سحاب، نگارستان، تايا سنز پرنٹرز، لاهور، ۲۰۱۰ء، ص ۳۴۸

۸: ڈاکٹر جميل جالبي، ارسطو سے ايليٹ تک، نيشنل بک فاونڈيشن، اسلام اباد، ۲۰۱۴ء، ص۳۸۹

۹: غازي سيال، بنړے، مخ ۶- ۷

۱۰: ډاکټر محمد اعظم اعظم، پښتو ادب کښې کردار نګاري، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، پېښور، ۱۹۹۳ء، مخ ۳۷

۱۱: منصب خان سحاب، نگارستان، ص ۲۴۸-۲۴۹

۱۲: غازي سيال، بنړے، مخ ۸

۱۳: منصب خان سحاب، ص ۲۴

۱۴: غازي سیال، بنزے، مخ ۸
۱۵: هم دا کتاب، مخ ۸
۱۶: هم دا کتاب ،مخ ۱۵
۱۷: هم دا کتاب ،مخ ۱۷